نورالحق ن. ځلی ۲۰۲۲/۰۸/۰۸

ایا له دې نه خبر یاست؟

لکه څرنګه چې پوهېږو، هر ښکېلاک او اشغال لاندې شوی ولس د لوټلو، تش لاسه کولو اوستومانه کولو په موخه لاندې کوي. د تومنې له پلوه هر ښکېلاک او اشغال ظالم، بې رحمه او نه مړېدونکی دی. د بشریت تاریخ د نرم یا پوست ښکېلاک او اشغال په نوم څه نه پېژني. په بله وینا هر ښکېلاک او اشغال ان پر وچې غوا هم شیدې تر لاسه کوي.

کله چې استعماري ځواکونه یو له بل سره پرتله کوو، نو برتانیا تر ټولو شیطاني ځواک راڅرګندېږي. که چېرې موږ یو درځن دوولس حساب کړو، په نړۍ کې دوه درځنه هېوادونه نشته چې برتانیې ورباندې یرغل نه وي کړی او یا یې خاورې ته په زوره نه وي ور ننوتې .

برتانوی تاریخ پوه او لیکوال ستوارت لېکاک، په خپل اثرکې « ټول هغه هېوادونه، چې موږ یو وخت یرغل ورباندې کړی او یو څو چې موږ ورته وخت پیدا نه کړ» لیکي:« د (۱۹۳) هېوادونو له ډلې نه، چې د ملګرو ملتونو سازمان یې په رسمت پېژني، موږ پر (۱۷۱) هېوادونو یا یرغل کړی دی او یا دا چې خاورې ته یې د جګړې کولو په موخه ورننوتلي یاستو . . . دا د نړۍ د هېوادونو (۹۰) سلنه جوړوي».



ستوارت لېکاک په ټوله نړۍ کې د هغو هېوادونو شمېر چې برتانیې ورباندې یرغل نه دی کړی، (۲۲) هېوادونه ښیي، چې څلور لاندینې هېوادونه یې په اسیا کې دي: تاجکستان، ازبکستان، قرغزستان او منګولیا. د امریکا په وچه کې دا هېوادونه: ګواتیمالا، بولیویا او پاراګوای. د افریقا په وچه کې دا هېوادونه: سائو تومه او پرنسیپ، مالي، عاج ساحل، چاد، بروندي، د کانګو جمهوریت او د مرکزي افریقا جمهوریت. د اروپا په وچه کې دا هېوادونه: اندورا، بلاروسیه، لوکزمبورګ، موناکو، سویدن، واتیکان ښار او لیختن شتاین. په غلې (آرام) سمندر کې: د مارشال ټاپوګان.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

دا یو بل فاکت دی چې د افغانستان استقلال ولې کم ساری او غازي امان الله خان یو ستر نړیوال شخصیت و.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ